# میندې د ښوونکو په توګه

## مور، د پالنې تر څنګ، د خپلو اولادونو او راتلونکي نسل ښوونکې هم ده.



### تاسو یو مثال یاست

ماشومان په خپل چاپېریال کې د موجودو مشرانو له کړنو څخه د تقلید پر بنسټ زده‌کړه کوي. له همدې امله، د هغوی په وړاندې ستاسو هر ګام د ښوونې او روزنې فرصت دی. د خپلو خبرو او الفاظو په کارولو کې دقت وکړئ او ماشومانو ته په عملي ډول د مناسب او غوره چلند ربښتینې مثال واوسئ.



### حوصله ولرئ

ممکن ماشومانو سره کار کول ستونزمن وي، خو ستاسو حوصله د هغوی د زده‌کړې فضا جوړوي. ګټوره زده‌کړه هغه چاپېریال کې ترسره کېږي، چې ماشوم پرته له وېرې، ملامتۍ او سزا په علمي فعالیتونو کې ونډه واخلي.



### د زده‌کړې فرصتونه ایجاد کړئ

تل د زده‌کړې فرصتونه وپلټئ او ګټه ترې واخلئ. کله چې ماشوم د کوم څیز یا موضوع په اړه پوښتنه کوي، هغه د زده‌کړې په حال کې دی. کله چې ماشوم خپل ټول پام تاسو یا بل څېز ته اړوي، دا هم د زده‌کړې فرصت دی. حتی د خوب وخت هم د زده‌کړې لپاره یوه ارزښتناکه شېبه کیدای شي.



### کیسې وواياست

کیسې د ښوونیز بهیر پیاوړې وسیله ده او له ماشومانو سره مرسته کوي چې مهم درسونه په اسانۍ سره درک او په یاد وساتي. د کیسه‌ویلو مهارت ته وده ورکړئ، ځکه دا د روزنې یوه اغېزمنه تګلاره ده.



### تکرار، تکرار او تکرار

په تکرار کې ځواک دی. هېڅکله د یو درس له تکرارولو مه ستړي کېږئ. د درسونو تکرار او پیاوړتیا مرسته کوي چې مطالب د وخت په تېرېدو سره د ماشومانو په ذهن کې ژور ځای ونیسي.



### ژبې ور زده کړئ

ماشومان ژبې په ډېرې اسانۍ زده کوي. هغوی ته خپله مورنۍ ژبه ور زده کړئ او په کور کې ورسره یوازې په همدې ژبه خبرې وکړئ. تر هغې چې ماشوم په مورنۍ ژبه خبرې ونه کړي، په بله ژبه ځواب مه ورکوئ. همدارنګه، د مسلمان په توګه، عربي ژبه هم ور زده کړئ.



## لوبې او فعالیتونه

ماشومان د لوبو، سرګرمۍ او فعالیتونو له لارې ښه زده‌کړه کوي. ښوونه، روزنه او درسونه له لوبو سره یو ځای کړئ او د زده‌کړې پروسه دلچسپه کړئ. درسونه په داسې فعالیتونو بدل کړئ چې ماشومان په کې د امتیازاتو او جایزو د ترلاسه کولو چانس ولري.



## عملي زده‌کړه

ماشومانو ته فرصت ورکړئ چې ستاسو تر لارښوونې او څارنې لاندې، په خپلواکه توګه کارونه ترسره کړي او په پروژو کار وکړي. پرېږدئ چې تېروتنې وکړي؛ ځکه ناکامي د زده‌کړې د پروسې یوه برخه ده. خو ورته واضح کړئ چې له خپلو تېروتنو باید درس واخلي، بېرته هڅه وکړي او بېلابېلې لارې و آزمايي. همدارنګه، دوی وهڅوئ چې د نورو له تېروتنو هم زده‌کړه وکړي.



## پړاو په پړاو زده‌کړه

ماشومانو ته زده‌کړئ چې کارونه څنګه پړاو په پړاو (مرحله په مرحله) ترسره کړي. هر درس په وړو او د مدیریت وړ برخو ووېشئ، ترڅو هغوی پرې پوه شي او عملي یې کړي. د ذهن د ستړیا د مخنیوي لپاره ورته په یو ځل ډېر معلومات مه ورکوئ. په ورځ کې پر یو یا دوه درسونو تمرکز وکړئ او د هغوی د وړتیا په لوړېدو او د وخت په تېرېدو سره د درسونو اندازه زیاته کړئ.




## حسي او لمسي فعالیتونه

عملي فعالیتونه داسې تنظیم کړئ چې د ماشوم د (لیدلو، اورېدلو، لمس کولو، بویولو او ذائقې) حس په کې ښکیل شي. د مثال په ډول: امکان لري چې په پخلي کې د اولیه موادو تعداد او اندازه کول د ریاضي د مهارتونو په زده‌کړه کې مرسته وکړي.



## علمي سفرونه

زده‌کړه یوازې د کور په فضا پورې مه محدودوئ؛ روزنیز او علمي سفرونه ولرئ، ځکه سفر پخپله پوهه ده. د طبیعت ننداره وکړئ او ورځني کارونه د زده‌کړې په فرصتونو بدل کړئ. ماشومانو ته اجازه ورکړئ چې د ژوند حقیقي مهارتونه تمرین کړي؛ لکه له پلورنځي څخه سودا اخیستل او له کارمندانو سره یې خبرې کول.




## نوښتګر اوسئ

تمثیل وکړئ، رول ولوبوئ، ترنم وکړئ او د هغوی له عمر سره مناسبې ټوکې ټکالې وکړئ. نوښت د ماشومانو پام ژر راا‌ړوي او ښوونیز بهیر ورته په یوې نه هېرېدونکې تجربې بدلوي.



## ځواب ویونکي اوسئ

هرکله چې ماشومانو پوښتنه وکړه، ځواب ورکړئ. که ځواب مو زده نه وو، ورته ووایئ چې ځواب به یې پیدا کړئ او وروسته به یې ورسره شریک کړئ. په خپلو ژمنو وفا وکړئ او د موضوع تعقیبول مه هېروئ.



## پوښتنې مطرح کړئ

د خبرو اترو لپاره مناسبه فضا جوړه کړئ؛ هدفمنې پوښتنې وکړئ، د هغوی خبرو ته ځیر شئ او ویې هڅوئ چې د نوې زده کړې په اړه خپل فکر، احساسات او نظریات له تاسو سره شریک کړي.




## ارزونه وکړئ

تر هر درس وروسته، یوه لنډه ازموینه واخلئ یا داسې ساده فعالیت ترسره کړئ چې د هغوی د پوهې کچه معلومه کړي. که بریالي شول، بل درس ته ولاړ شئ؛ که نه، تېر درس بیا تکرار کړئ، ځکه تکرار د ښوونیز بهیر د غوره‌والي لامل کېږي.